# له خپل کور د سرپو د فلز د دوړو صفايي کول

لړيدلي رنګ او کور کې نور د سرپو ځيزونو څخه غورځېدونکې دوړه خطر لري ستاسو کور خلک په سرپو مسموم شي. د ماشومانو لاسونه، مخونه او د لوبو ځيزونه مينځل او پاک ساتل مرسته کوي چې د سرپو خطر زيات لړ وي. د لوبو څنه ځيزونه په د جامو مينځلو ماشين کې هم سپا کيږي. د لوبو نورو ځيزونو باندې د صابون لامده کپړه وهلې شئ.

که ستاسو کور کال 1978 څخه زيات زوړ دی او فکر لرئ نوی، مرمت يا رنګ یې کړئ نو دلته معلومات وګورئ www.epa.gov/lead



## د سپايۍ غوره طريقې

له خپل کور د سرپو يعني د lead فلز د غوره سپايۍ دوه طريقې دي:

1. اوبو سره مينځنه
2. ځانګړي هيپا بربښنايي ربېز يعني ويکيوم سره

په اوونۍ يعني هفته کې يو ځل ويکيوم کول او يو ځل اوبو يا لامده سوېپر يا کپړې سره د کور مينځل اغېزمنه صفايي ده. په بله پاڼه لارښوونې وګورئ.

## د سپايۍ د اوزارو لسټ:

- هيپا ويکيوم
- کورنۍ پاکوونی چې زهرناک نه وي د يو ځل
- استعمال رنجې يعني کپړې
- د ځځلو ټينګې
- کځوړې
- د ربړ دستانې
- د کپړې د سوېپر يو ځلي استعمال

## د کور د خيالساتنې مشورې:

- واشنګ ماشين کې د سرپو په دوړو لړلي کالي او کپړې مينځلو نه پس ماشين ته د خيشتولو په بټن يوه بله موده ورکړئ.
- د کور ځايونو په ورو برخو کې له تر ټولو سپا څخه تر ټولو سخا ځيز په ترتيب ترسره کوئ.
- وطن وچولو لپاره خشکه ربېز مه وهئ. اوبو يا د فرش د صفايۍ مايع اول سپرې کړئ او بيا د يو ځلي استعمال کپړې سوېپر سره وچول وکړئ.



## اړيکه ونيسئ


Minnesota Department of Health
(ميناسوټا ډيپارټمنټ آف هيلت)
Health Risk Intervention Unit
(روغتيا ته خطرونو پضد د مداخلو واحد )
P.O. Box 64975
St. Paul, MN 55164-0975
ټيليفون: 651-201-4620



*Pashto* 7/2020

# اوبو سره مینځنې طریقه



## لومړی ګام: مینځل

1. د ربړ دستانې واچوئ او په یو بالټۍ کې د صفايي محلول جوړ کړئ او بله بالټۍ له پاکو اوبو ډکه کړئ.
2. د صفايۍ محلول په بالټۍ کې د یو ځل استعمال لپاره کپړه لامده کړئ. بیا دغه کپړې سره د کړکیو چوکاټونه، د کړکیو ژورې برخې، د ورونو چوکاټونه، دیوالونه، او فرشونه سپا کړئ.
3. سخا کپړه شوې د صفايۍ محلول ته بیا مه ورګډوئ چې محلول مردار نشي.

## دویم ګام: خیشتول



1. د صفايۍ محلول په بالټۍ کې د یو ځل استعمال لپاره نوې کپړه لامده کړئ او په مینځل شویو ځایونو یې بیا ووهئ
2. سخا کپړه شوې د صفايۍ محلول ته بیا مه ورګډوئ چې محلول مردار نشي. دا سخا کپړه استعمال نه پس غورځوئ.
3. چې کار تمام شي نو د خیشتولو اوبه او د صفايۍ محلول ټایلټ کې واړوئ. دغه سخا اوبه د لاسونو مینځلو سینک یا د لامبلو بات ټب کې مه اچوئ ځکه چې د سرپو فلز سره د لمس خطر پیدا کیږي.




## هیپا ویکیوم سره صفايي کول

- تل ځانګړي ویکیوم کلینر سره صفايي کوئ چې د هیپا مطلب Efficiency (Particulate Air Filter (HEPA دی یعني د وړې ذرې چاڼوونکی د لوړې درجې تکړه ویکیوم ماشین.
- عام ویکیوم ماشین هیڅکله مه استعمالوئ ځکه چې دا د سرپو د فلز وړې ذرې نه شي اوچتولی.
- د هیپا ویکیومونه آنلاین او دکانونو کې په کرایه یا په پېرودنه ملاویږي.
- سپارښته کیږي چې ویکیومول باید هفته کې یو ځل ترسره شي.

DEPARTMENT OF HEALTH

نور معلومات: www.health.state.mn.us/lead